# Afghanistan Nutrition Cluster

## په افغانستان کی د COVID-19 شرایطو په نظر کی نیولو سره د IMAM او IYCF پروګرامونو لاربنود

## 8 April/2020 - د وری 20-1399

دا لار ښود د کرونا د خپراوی شرایطو په نظر کی نیولو سره په شدیدی ، متوسطی خوارځواکی او *IYCF* خدمتونو تمرکز کوی چی د نویو شواهدو په ښکاره کیدو سره به دا لارښود هم نوی شی. دا لارښود د اوسني شرایطو په لړ کې د روغتیا وزارت لخوا تایید شوی او باید د ملي پروتوکولونو یا دولتي لارښودونو ځای ناستی نشی. دا لارښود به د کرونا ناروغی د شیوع په نظر کی نیولو سره بیا کتل کیږی او اړین تغیرات به پکی واردیږی او وروسته به بیا د عامی روغتیا وزارت لخوا تصدیق کیږی.

### په افغانستان کی د Covid-19 شرایطو په نظر کی نیولو سره د آیمم (IMAM) پروګرام لپاره وړاندیز شوی توافقات

<table>
<tr><th></th><th>ټولنه پرته له ګرځبندیزه</th><th>ټولنه له لړ یا پوره ګرځبندیز سره</th></tr>
<tr><td>داخل بستر خدمتونه</td><td colspan="2">☐ د بستر دننه تغذیوی شته پروګرام ته د امکان په صورت په کرونا اخته او مشکوکو ناروغانو ته جلا تجرید ځایونو سره ادامه ورکړی<br>☐ معیاری احتیاطی کړنی ( ساه اخیستنی او لاس پوری اړوند روغتیا ساتنی )څخه جدی پیروی اوعملی کول د ټولو ناروغانو او پایوازانو لپاره یقینی کول او همدارنګه داضافی احتیاطی کړنوعملی کول لکه (د تماس ،لاړو د قطراتو د خپریدو او د هوا د پاکول)<br>☐ دډیرو روغتیا پالانو سره د تماس د کچی محدودول او د پاکولو د لارښونو جدی پلی کول (د دوو اندازه ګیریو په منځ کی د ترازو تعقیم کول)<br>☐ د میندو/پایوازانو، شیدی ورکونی وسایل او ټول هغه چی د له شیږو میاشتو څخه لږ عمر لرونکی ماشومان اداره کوی او پوستکی په پوستکی تماس او شیدی ورکونی په وخت کی په جدی ډول د روغتیا ساتنی معیارونو عملی کول<br>☐ د شدیدې خوارځواکی د بستر دننه پروګرام (IPD SAM) کې د دوه بسترونو ترمنځ باید واټن لږ تر لږه ۱٫۵ مترو ته زیات شی<br>☐ د ټولنو (غونډیدو) د مخنیوی په خاطر باید د کورنی د غړو ملاقات کم کړای شی یواځی یو پایواز شتون ولری<br>☐ د نړیوال روغتیایی بنسټ د لارښوونی په اساس د بستر دننه (IPD) کار کوونکو لپاره د انتان د خطر کمول<br>☐ د بستر دننه وارد کی د لاس وینځلو او ضد عفونی کولو اسانتیا و موجودیت یقینی کول</td></tr>
<tr><td>د بستر څخه دباندی او ټولنی په کچه خدمتونه</td><td>☐ د افغانستان د حادی خوار ځواکی د مدغم شوی برنامی د لارښود په اساس په ایمم (IMAM) برنامه کې د شامیلیدو معیارات په خپل ځای دی<br>☐ د نړیوال روغتیایی بنسټ د لار ښود په اساس له بستر څخه دباندی اود ټولنی په سطح روغتیایی کارکوونکو لپاره د انتان د خطر کچی را ټیټول<br>☐ چیرته چی خدمات موجود وی د OPD SAM خدماتو ساتل د انتان د مخنیوی او کنترول کړنو پلی کول او تعقیبی هفتوار ملاقاتونو را کمول هرو ۱۵ ورځوته او د RUTF کورنی راشن مقدار لوړول<br>☐ چیرته چی خدمات شتون لری د OPD- MAM خدماتو ساتل او نړیوال روغتیایی بنسټ د سپارښتنو په اساس د انتان مخنیوی او کنترول تدابیر عملی کول او د تعقیبی ۱۵ ورځنیو ملاقاتونو را ټیټول هرو یوی میا شتی ته د حامله او شیدو ورکوونکو میندو لپاره تغیر په پام کی ندی نیول شوی د بخوا په شان په منظم ډول په میا شتنی اساس صورت مومی<br>☐ د ګڼی ګوڼی د کمولو په خاطر د انتان دکنترول او مخنیوی کړنو په اساس خدمات باید په اونی کی ۵ ورځی تر سره شی<br>☐ د تغذی برنامو په مراکزو کی د لاس مینځلو او ضد عفونی کولو اسانتیاو ی د ټولو هغو مراجعینو په لاس رسی کی ورکول او له خدماتو اخیستلو څخه ترمخه استعمال یی یقینی کول<br>☐ د خطر او تماس د کچی را ټیټولو په خاطر د پایوازانو تشویقول تر څود سوپروایزر تر نظارت لاندی خپلو ماشومانو د وجود (انتروپومیټریک) اندازه ګیری(موک او اذیما) ترسره کړی<br>☐ د ټولنی په سطح د روغتیایی کار کارکوونکو ته د وظیفی په جریان کی روزنه ورکول د سکریننک ، رجعت ورکونی او د ټولنی په کچه د شیدی ورکونی د مناسب پرکتس د ارتقا په اړوند<br>☐ د میندو پواسطه د MUAC د استعمال موجوده فعالیت ته تقویت ورکول ترڅو په تشخیص او سکریننګ کیفیت کی ښه والی راشی میندو ته د MUACبرابرول باید یقینی شی<br>☐ کوچنیانو ، حامله او شیدی ورکونکو میندو ته د وقایوی متممی خوړو او د روغتیا ساتنی ټولګی برابرول د انتان د کنترول او مخنیوی د اساساتو په اساس جاری وساتی او له ټولنو (غونډو) څخه مخنیوی وکړی<br>☐ د مشوری ورکونی خدمات شیدی ورکوونکو میندو ته چی د ماشومانو عمر یی له دوه کلونو ښکته وی جاری وساتی</td><td>☐ د افغانستان د حادی خوار ځواکی د مدغم شوی برنامی د لارښود په اساس په ایمم (IMAM) برنامه کې د شاملیدو معیارات په خپل ځای دی<br>☐ د ټولنی په کچه روغتیایی کار کوونکو ته د وزارت صحت عامی د پالیسی اړوند د حقالزحمی ورکړه<br>☐ د تعقیبی هفتوار ملاقاتونو را کمول میاشتنی ملاقاتونو ته (هغه ماشومان چی په غیر اختلاطی شدید خوار ځواکی اخته وی)او د RUTF کورنی راشن مقدار لوړول د عامه تغذی د ریاست له تایید څخه وروسته چی دغه له مخکی څخه اماده شوی سپلای ته اجازه ورکړی پدی اړوند مفاهمه او تاییدی باید په ۲۴ ساعتونو کی تر سره شی<br>☐ هغه ماشومان چی په متوسط خوارځواکی اخته وی ددوه هفتنی تعقیبی ملاقاتو را ټیټول میاشتنی ملاقات ته او د RUSF راشن کورنی مقدار لوړول د عامه تغذی د ریاست له تایید څخه وروسته چی دغه له مخکی څخه اماده شوی سپلای ته اجازه ورکړی پدی اړوند مفاهمه او تاییدی باید په ۲۴ ساعتونو کی تر سره شی<br>☐ د تغذی برنامو په مراکزو کی د لاس مینځلو او ضد عفونی کولو اسانتیاو ی د ټول هغو مراجعینو په لاس رسی کی ورکول او له خدماتو اخیستلو څخه ترمخه استعمال یی یقینی کول.<br>☐ د امکان په صورت کی ددی کورنیو او موجوده محافظتی سیستم ترمنځ اړیکه ټینګه کړی.<br>د نورو وقایوی اضافی خوړو برابرول کوچنیانو او امیدوارو میندو ته په میاشت کی یو ځل د روغتیا ساتنی او خوندي اقداماتو په مراعات کولو سره او د خلکو له ګروپی یو ځای کیدو څخه مخنیوی وګړی<br>☐ د مشوری ورکونی خدمات شیدی ورکوونکو میندو ته چی د ماشومانو عمر یی له دوه کلونو ښکته وی جاری وساتی</td></tr>
</table>

## په افغانستان کی دشیدوخوړونکواو ځوانوکوچنیانودتغذي په پروګرام کی توافق شوی سپارښتنی په کوید ۱۹ شرایطوکی

| په كوركې دشيدوخوړونكو اوځوانو كوچنيانودتغذيې ساتنه ترويج اوملاتړ | |
|---|---|
| **اړيني يا مهمي پاملرني** | **سپارښتني** |
| **دتغذیې په حال کی بي پروايي:**<br>☐ میندی باید تل خپل لاسونه په صابون اواوبوسره په اړینو وختونوکی پریمنځي په ځانګړی ډول کوچنی سره دتماس مخکی او وروسته.<br>☐ هره ورځ په کورکی هغه سطحی چی مور ورسره په تماس کی کیږي په صابون او اوبو پریمینځی .<br>☐ کچیری مور دتنفسی سیستم کوم اعراض لري نوکله چی کوچني تغذیه کوی باید دماسک څخه ګټه واخلي که شتون ولری او کنه نو دکورني عادی ماسک نه دی ګټه واخلي.<br>☐ مور اوکوچني باید لږترلږه دنوروڅخه یو متر فاصله مراعت کړي اودسترګو،پوزی اوخولي دتماس څخه ډډه وکړي.<br><br>**شیدی ورکوونکي میندي:**<br><br>☐ میندوته باید مشوره ورکړل شی/توصیه ورته وشی چی دمورپه شیدو تغذیی ته دوام ورکړي(په محفوظ ډول دښه تنفسي حفظ الصحی سره)کچیری شیدی خوړونکي اویا ځوان کوچنیان شکمنه کوید ۱۹ ناروغي ،تا ئید شوی کوید۱۹ اویا کومه بله ناروغي هم ولری.<br>☐ کچیری مور دکوید ۱۹ ناروغۍ له امله دومره سخته ناروغه وی چی کوچني ته شیدی نشی ورکولي نو شیدی باید دتیونو څخه وویستل شي او کوچنی ته ورکړل شی.<br><br>**مصنوعی تغذیه:**<br><br>☐ میندوته مشوره ورکړل شی/توصیه ورته وشی چی شیدی خوړونکی کوچني اویاځوان کوچني په پیالي سره تغذیه کړی اوخپل لاسونه دپیالي اخیستلونه مخکي په صابون او اوبو سره پریمنځی او دهغه کسانو شمیر محدود کړي چی دکوچنیانو څخه ساتنه کوي. | **هغه میندی چی شکمنه او یا تا ئید شوی کوید۱۹ناروغي ولری نو په کور کي دتجريد يابيلوالي په حالت کی باید دتغذیی په جریان کی ټولی اړینی تنفسی حفظ الصحوی کړني ترسره کړي.** |
| ☐ ددی دپاره چی دکورنیو په کچه با ارزښته غذایی توکوته دلاس رسی وړتیا ولرو ،نو والدین باید دګرځبندیز له امله داړتیا وړ غذایی توکي دوه برابره کړي.هغه کسان چی دکوچنیانو څخه ساتنه کوی ممکن دکوچنیانو دتغذیه کولو دمسؤلیتونو نه ناراحته شي. دعمر سره سم دمحفوظي (خوندي) تکمیلي (متممه) غذا او غذایی عاداتودپاره دیوځانګړي لارښود برابرول،ټولنیزی رسنی اوخپروني دوالدینو سره په پریکړه نیولو کی مرسته کوي.<br><br>☐ دکوچنیانو پالونکو ته باید مشوره ورکړل شی/توصیه ورته وشی،ورته عملي ،ممکن او د شرایطو اووضعیت سره سم ځانګړي معلومات دروغتیایی غذایی رژیم په اړه ورکړل شي. ترڅوپه دی وتوانیږی خپلو کوچنیانو ته یو روغتیایی غذایی رژیم دښنلو دپاکو اوبوسره برابر کړي.<br>☐ کچیری تازه غذایی تولیداتو ته لاسرسی ستونزمن وی ،نودروغتیایی غذا دپاره نوری لاری اختیار کړی ترڅودتازه غذایی توکو ځای ونیسي.<br>☐ دداسی معلوماتو چمتو کول چی په ولایت کی دکوید ۱۹ ناروغۍ دخپریدو له کبله راپیداکیدونکوموانعو(خنډونو)ته ځواب ووایی. | **کورنیو ته زیات ملاتړورکول چی کوچنیانو ته دتکمیلی (متممه) غذا دورکولو په وخت کی څه شی،کله اوڅنګه په کورکی تر سره کړي.ددی پاره چی په کوید ۱۹شرایطوکی کورنیو ته لاس رسی ولرو نو د مفاهمی عملي چینلونو څخه باید ګټه واخلو** |
| ☐ دکوچنیانو پالونکي مخکي ددی نه چی غذا تیاره یا وخوړل شی باید ځان ډادمن کړي چی ټولی احتیاطی حفظ الصحوی کړني یی ترسره کړي لکه په صابون او اوبوسره دلاسونو مینځل،دهغه ځایونو پاکول او ضد عفونی کول چی غذاپه کی تیاریږی.<br>☐ ځان ډاډمن کول چي دشرایطو سره سم ممکنه /کیدونکی دحفظ الصحی په اړه پیغامونو ته په ټولواړونده مفاهموی چینلونو کی ځای ورکړل شوی .<br>☐ په هغه ټولنوکی چیرته چی یوځای په یوه کاسه کی خوراک معمول وی یاکوچنیان په لاس خوراک کوی نودمیکروبونو دلیږد دمخنیوی دپاره باید دجدا پلیټ اوقاشوغي څخه ګټه واخیستل شي. | **دمصوئنی حفظ الصحی دسلوک دترویج زیاتول په ځانګړی ډول په حساسو شرایطو کی په صابون سره دلاسونو پریمینځل او مصوئنی غذا برابرول تر څو دکوید ۱۹ ناروغۍ دلیږد څخه مخنیوی وشي.** |
| ☐ دخدماتو درسولو دپاره باید نوښتونه په کار واچول شی تر څو کورنۍ او ټولنی ورڅخه ګټه واخلي لکه موبایل ټیکنالوژی،ټولنیزی رسنی،رادیو،تلویزون اوټیلیفونی پیغامونه ،په ټولنه کی اعلانونه کول اوداسی نور.<br>☐ دمناسبو غذایی کړنو په اړه داړونده معلوماتی موادو برابرول اود تغذیوی پروګرامونوپه ځایونوکی ورڅخه ګټه اخیستل.<br>☐ موجوده سرچینی لکه راډیو،کارتوني فلمونه ،ویډیوګانی،دیونیسف دلمړنیوغذاګانو دلړۍ ویډیوګانی په لاندی لینک په موبایلونو کی راښکته یاډاونلوډ کولي شی https://www.unicef.org/nutrition/102823_The%20video%20series.html | **دساده ،عملي اوشرایطو سره سم دمعلوماتو برابرول.دموجوده مفاهموي چینلونو(معلوماتی مواد،تصویری،ډیجیټل،نشریات او ټولنیزی رسنی)څخه ګټه اخیستل چی دګرځبندیزاو مالي ستونزو په وخت کی کورنۍ دکوچنیانودښی تغذیی لپاره ورڅخه ګټه واخلي.** |

| | |
|---|---|
| چې ورڅخه دکوچنیانو پالونکو ته مشوره ورکولی شي چي په څه شي،کله او څوک کوچنیان تغذیه کړي.<br>هغه ویډیوګاني چې دمورپه شیدو دتغذیی ملاتړ کوي(دلاس پواسطه دشیدو ویستلو په شمول) دنړیوالي روغتیایی میډیا پواسطه جوړی شوی او دلاندی ادرس څخه یی لاسته راوړی شی.<br>https://globalhealthmedia.org/videos/. | |
| **دکوید ۱۹ ناروغی په شرایطو کی دBPHS & EPHS روغتیایی مرکزونو دلیاری دشیدوخوړونکو اوځوانو کوچنیانو دتغذیی خدمات وړاندي کول** | |
| ☐ په کوید ۱۹ ناروغی اخته میندو دپاره دمور په شیدو دتغذیی دپاره دداسی محفوظو پروتوکولونو جوړول چې پرمټ یې دموردشیدو دځای نیونکو پراخي ویشنی مخه ونیول شی او د۶ میاشتو نه کم شیدی خوړونکی کوچنیان دمور دشیدو پرته په بل څه تغذیه نشی.<br>☐ دمور په شیدو تغذیه باید دزیږون څخه وروسته په لمړي ساعت کی پیل شی،دمورپه شیدو خالصی تغذیی ته تر ۶ میاشتو دوام ورکړی،په ۶ میاشتنی کی ورته تکمیلی (متممه) غذا پیل کړي او دمورپه شیدو تغذیی ته تر دوه کلنی او یاددی نه زیات دوام ورکړی.<br>☐ میندو ته باید مشوره ورکړل شی/توصیه ورته وشی چې کچیری کوچني شکمنه کوید ۱۹ ناروغی یا تائید شوی کوید۱۹ ناروغي اویاکومه بله ناروغي ولری خپل شیده ورته ورکړي. | **کچیری دکوید ۱۹ شکمني او یاتایید شوی ناروغی لرونکی میندي په روغتیایی مرکزونو کی زیږون کوي نو باید خپلو نوو زیږیدلو کوچنیانو ته دشیدوخوړونکو کوچنیانودتغذیی دلاربنود سره سم خپلی شیدي ورکړي او اړینی تنفسی حفظ الصحوي سپارښتنی عملي کړي.** |
| ☐ ټولي میندی چی تائید شوی کوید۱۹ ناروغی اویاشکمن اعراض ولری ،کوچنی ته دپوستکی له پوستکی تماس(skin to skin contact) ،شیدو ورکولو په وخت کی،دکوچني دتغذیه کولو په وخت کی اړیني تنفسی حفظ الصحوی کړنی تر سره کړی لکه دماسک څخه ګټه اخیستل.<br>☐ کچیری مور تنفسی اعراض ولری نو ورته سپارښتنه ورته وکړی کله چی کوچنی ته نزدی کیږی نو که ممکن وی ماسک دی استعمال کړي،هره ورځ دی هغه سطحی ضد عفونی شي چي داعراضو لرونکی مور ورسره په تماس کی کیږی. | **که اړتیا وی میندو او شیدوخوړونکو کوچنیانو ته دشیدو پواسطه دتغذیی ملاتړ ورکړی.تر څوپه دی وتوانیږی چي دپوستکي له پوستکي تماس،په یوه کوټه کی شپه او ورځ سره یوځای پاتی کیدل تر سره کړی.په ځانګړي ډول وروسته دزیږون څخه دمور په شیدو دتغذی سمدستی پیلول،کچیری دوی او یا ددوی کوچنیان دکوید ۱۹ شکمنه اویا تایید شوی ناروغي ولري.** |
| ☐ کچیری مور دتیونو څخه په لاس او یا لاسی شیدو ویستونکی پواسطه شیدي اوباسي نوباید خپل لاسونه مخکي دشیدو ویستلو اویا دبوتل اودشیدو ویستونکی آله سره تماس نه وروسته پریمینځي.اوداستعمال نه وروسته شیدو ویستونکی پمپ باید پاک ومینځل شي .<br>☐ ویستل شوی شیدی باید کوچنی ته په پاکه پیاله اویا قاشوغه ورکړل شی.کچیری دداسی کس پواسطه کوچنی ته ویستل شوی شیدی ورکړل شی چی دناروغی اعراض ونلری بهتره به وی.<br>☐ کچیری مور ډیره سخته ناروغه وی اوکوچني ته شیدی نه شی ورکولی اویادتیونوڅخه شیدی نشی ویستلي اویا نورڅوک چی کوچنی ته شیدي ورکړی موجود نه وی ،نودمور د شیدو داسی ځای نیوونکو څخه ګټه واخیستل شی چی دځایي شرایطو سره برابر او مورته دمنلو وړوی او مورته باید اسانتیاوی برابری کړي. | **په هغه حالاتو کي چی دکویید ۱۹ ناروغي لرونکی مور کومه بله سخته ناروغي ولری اویا نور کوم روغتیایی اختلاطات ولری نو باید مور مستقیماً کوچني ته خپلی شیدی ورنکړي او شیدی باید دتیونو څخه وویستل شی او دټولوحفظ الصحوی شرایطو په نظر کی نیولو سره دپیالي او قاشوغي پواسطه کوچني ته ورکړل شی.** |
| ☐ حقیقي چینلونه(ټیلیفون،ټولنیزی رسنی او نور) باید تشویق شی چی مهمو او اړینو وختونو کی کورنیوته دمورپه شیدو دتغذیی،تکمیلی غذا دبرابرولوپه اړه معلومات ورکړي.دبیلګي پتوګه کچیری کوچني او مور دروغتیایی مرکز څخه دمور په شیدوپواسطه دخالصی تغذیی نه دتکمیلی غذا دپیل کولوپه مرحله کی رخصتیږی نو په اړه یی اړین معلومات ورکړل شي.<br>☐ دویری، ګرځبندیز او دکورنیو دغړو دانديښنی په حالاتوکی اومیندواری او شیدی ورکوونکی میندي دروانی فشار ښکارکیږي.نو دمشوری ورکولو په وخت کی ټولنیز-رواني ملاتړ باید دیاده ونه ویستل شی. | دشیدو خوړونکواو ځوانوکوچنیانو دتغذیی مشوره ورکول،اساسی ټولنیز-رواني ملاتړاودتغذیی اړوند عملي ملاتړ ورکول ټولو اومیندواره اوشیدی ورکوونکو میندو ته چی شکمنه اویاتایید شوی کوید ۱۹ ناروغي ولري. |